بسم الله الرحمن الرحيم
الله اکبر

افغان ملت
ملي جريده
افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند
Afghanistan Social Democratic Party
د افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند خپرونکی ارګان


ان الله لا يغير ما بقوم حتى يغيرو ما بانفسهم
الايه
صدق الله العظيم

په تحقيق سره لوی خدای جل جلاله يوه قوم کې تغير نه راولي تر
څو دوی په خپلو ځانو کې د تغير اراده ونکړي

د افغان ملت غږ !

مونږ په خپل تاريخي هيواد کې د يو
ملي، خپلواک، بې طرفه، په خپلو
پښو ولاړ او سرلوړي افغانستان
غوښتونکي يو

د افغان ملت ګوند رهبر ، ملي شخصيت ، دروند پښتون مشر ، تاريخ پوه او ليکوال اروابناد قدرت الله حداد د مړينې له کبله د افغان ملت ملي جريدې دغه ګڼه د اروابناد حداد صاحب لپاره ځانګړې شوې.


| | | | |
|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۰ لمريز کال د دلوې/حوت مياشت | د ۲۰۱۲ ميلادي کال د فبروري مياشت | د دريمې دورې ۳مه ګڼه | Publication of the Afghanistan Social Democratic Party- Feb 2012 |


# د افغان ملت ملي مترقي ګوند رهبر قدرت الله حداد په حق ورسيد



د افغان ملت ګوند رهبر ، ملي شخصيت ، دروند پښتون مشر ، تاريخ پوه ، ليکوال او دنورو ډيرو ښو صفاتو خاوند قدرت الله حداد د ور پيښې ناروغۍ له امله ددې فاني دنيا نه د ۱۳۹۰ کال د قوس په ۲۵مه سترګې پټې کړې.

**انا لله و انا اليه راجعون**

د حداد صاحب مړينه ټولو افغانانو ، د نړۍ ټولو پښتنو او په خاص ډول د افغان ملت مترقي ګوند لپاره ستره او نه جبران کيدونکې ضايعه ده . حداد صاحب د تيرو پنځوس کلو راهيښې د افغانستان د پت او عزت ، په هيواد کې د ديموکراسۍ د تحقق او د پښتو او پښتنو د حقوقوخوندي کولو لپاره په ډيره ميرانه او جرات هراړخيزه فرهنګي او سياسي مبارزه کوله . د نيږدې پنځلس کلو د تحقيق او زيار نه وروروسته يې د افغان ملي تاريخ کتاب تکميل کړ چې دا يې په ټول افغان اوپښتون ولس لوی احسان دی.

حداد صاحب د تيرو څو کلو راهيښې په مسلسله توګه هره ورځ د افغانستان د شانداره تاريخ او روانو چارو په اړه يوه مقاله په ويب پاڼو او اخبارو کې نشروله تر دې چې يوه ورځ هم پکې قضايي نه وه راغلې. حداد صاحب خپل ټول ژوند د دين وطن او افغان ملت خدمت ته وقف کړی وو . دده په مړينه ټول وطنپال افغانان او په خاص ډول پښتانه ويرجن دي او په پښتون قيادت کي لويه خلا را منځته شوې .اروابناد قدرت الله حداد او اروابناد شمس الهدا شمس دواړه د يوې لپارې ملګري وو او نن دواړه زمونږ ترمنځ نشته خو کارنامې او يادونه به يې تل له مونږ سره وي. د افغان ملت ملي مترقي ګوند د مرحوم حداد صاحب زامنو ښاغليو ايمل فرهاد ، ولي فرهاد ، منصور فرهاد او ټولې محترمې کورنۍ ته د زړه له کومې دغمرازۍ مراتب وړاندې کوي او حداد صاحب ته د خدای (ج) له درباره جنت الفردوس غواړي .

# په جلال آباد او پيښورکې د اروابناد قدرت الله حداد د فاتحې مراسم

اروابناد قدرت الله حداد چې د ۱۳۹۰ کال د قوس په ۲۵مه (د دسمبر ۱۶مه ۲۰۱۱) په حق رسيدلی وو او د امريکا په ويرجينيا ايالت کې خاورو ته وسپارل شو د فاتحې مراسم يې په جلال آباد کې د انجينير اجمل شمس په مشرۍ د افغان ملت ملي مترقي ګوند په مرکزي دفتر کې د جمعې په ورځ ۱۳۹۰ کال د جدي په ۲مه (د دسمبر ۲۳مه ۲۰۱۱) ولمانځل شول . پدې مراسمو کې د ګوند مشر انجينير اجمل شمس ، عمومي منشي وصلي خان ملاخيل ، د ګوند مرستيال امان الله اتل ، د عالي شورا ټولو غړو ، ګڼ شمير افغان ملتيانواو د اروابناد حداد صاحب عقيدت مندو ګډون وکړ. د افغان ملت ګوند د عالي شورا غړي او د ولسي جرګې پخواني وکيل ښاغلي ډاکټر فاروق ميرني هم د خپل يو پلاوي سره د فاتحې پدې مراسمو کې ګډون وکړ.

د فاتحې پدې مراسمو کې د قران عظيم الشان د مبارکو آيتونو په تلاوت سره د مرحوم حداد صاحب د مغفرت لپاره دعاګانې وشوې . د غونډې په ترڅ کې انجينير اجمل شمس ، ډاکټر فاروق ميرني ، وصلي خان ملاخيل او عبدالکريم مستري د حداد صاحب په ژوند او مبارزه رڼا واچوله او دده د ملي ، ټولنيز او فرهنګي خدمتونو يادونه يې وکړه .فاتحې د سحر د ۹ بجو نه د غرمې تر ۱۲ بجو پورې دوام درلود **(پاتې ۲ مخ .)**



د افغان ملت مرکزي دفتر جلال آباد کې د اروابناد قدرت الله حداد د فاتحې مراسم (جدي ۱۳۹۰)

# د اروابناد قدرت الله حداد په مړينه د ولسمشر حامد کرزي پيغام

په ډيرې خواشينۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې د هيواد يو سياسي او فرهنګي شخصيت قدرت الله حداد دورپيښې ناروغۍ له امله د دې فاني دنيا نه سترګې پټې کړې . اروابناد قدرت الله حداد د مرحوم ديپلوم انجينير غلام محمد فرهاد په ملي او سياسي مدرسه کې روزل شوی وو. په انيس ورځپاڼه او پامير،اقتصاد او افغان ملت جريدو کې يې مطبوعاتي خدمتونه د قدر وړدي .

د يو سياسي شخصيت په خوا کې هغه د پښتو او دري ژبو ليکوال هم وو . زيات کتابونه يې ليکلي دي . د هغه مړينه ستره ضايعه ده . خپل د تسليت او همدردۍ مراتب د هغه کورنۍ ، ملګرو او د ميدان وردګ ولس ته وړاندې کوم .خدای دې هغه ته مغفرت ور په برخه کړي او پسماندګانو ته دې جميل صبر ورکړي.

# د داروابناد قدرت الله حداد ژوند او مبارزه

وصلي خان ملاخيل

اروابناد قدرت الله حداد د ميدان وردګو ولايت اصلي اوسيدونکی او د افغان ملت ملي مترقي ګوند د بنسټ ايښودونکي اروابناد ديپلوم انجينير غلام محمد فرهاد وروړ وو. حداد صاحب په ۱۹۳۰ ميلادي کال کې په کابل کې په يوه علمي او متدينه کورنۍ کې يې سترګې وغوړولې. د ژوند زياته برخه يې په ليکوالۍ ، فرهنګي او سياسي مبارزه کې تيره کړه .

په ۱۳۳۰ لمريز کال کې يي د انيس په مجله کې د ليکوال په صفت وظيفه اجرا کوله . وروسته بيا د کابل د ښاروالۍ په رياست کې د پامير د جريدې د مسوول په توګه کار وکړ او بيا وروپسې د اقتصاد د جريدې مرستيال وټاکل شو. ښاغلی حداد ځلورکاله د ژورناليزم مسلکې زدکړه تکميل کړه . رسمي سند يې تر لاسه کړ او د رحمان بابا ادبي جايزه يې اخيستې وه. وروسته بيا د سرې مياشتې د تبليغاتو مدير شو. ددې ماموريت په دوران کې د دولت په نمايندګۍ ايران ته لاړ او د زلزله ځپلو لپاره يې مرستې ورسولې . په ۱۳۴۵ لمريز کال کې د افغان ملت د جريدې مسوول مدير وټاکل شواو په ډير زحمت ، زيار، او ميړانه يې دا دروند ګوندي مسووليت تر سره کړ. د دې مسووليت په دوران کې د خپلو جراتمندانه فرهنګي فعاليتونو له کبله دوه ځل محکمې ته وغوښتل شو خو د خپل ملي او اصولي دريځ نه تير نشو. په ۱۳۵۰ لمريز کال کې يې په بنګله ديش کې د سولې په نړيوال سيمينارکې د هيواد د نماينده په صفت برخه واخيسته.

په ۱۳۵۷لمريز کال کې د ثور د کودتا پر محال ونيول شو او يو نيم کال يې د پلچرخي زندان کې خورا ستونزمنې او د تکليفونو نه ډکې ورځې شپې تيرې کړې . وروسته بيا په ۱۳۶۰ لمريز کال کې کوزې پښتونخواه ته د خپلې کورنۍ سره مهاجر شو. دغه وخت په پيښور کې د اروابناد شمس الهدا شمس تر مشرۍ د افغان ملت ګوند فعال وو. حداد صاحب هم د خپلو ګوندي ملګرو سره په فعاليت شروع اوکړه او ګوندي مبارزه نوره هم چټکه شوه. په ۱۹۸۴ ميلادي کال کې د ګوند موسس او رييس غلام محمد فرهاد په حق ورسيد . په ۱۹۸۷ کال کې د ګوندي انتخاباتو په نتيجه کې انشعابات راغلل خو حداد صاحب بيا هم د تحمل او تدبر نه کار واخيست او د نور تخريب مخه يې ونيوله. وروسته چې کله ورته د ژوند شرايط ډير ذيق شول نو د خپلې کورنۍ سره يو ځای امريکې ته لاړ. يو څو کلونه وروسته يې اعلان وکړ چې د ګوند هيڅ رسمي چوکۍ ته کانديد نه دی . شمس صاحب ته يې د وروری لاس ورکړ او ورته يې د ګوند مشر وويل. اروابناد شمس او افغان ملت ملي مترقي ګوند حداد صاحب ته د رهبر په صفت قايل شول. د حداد صاحب په رهبرۍ او شمس صاحب د رياست پدې مرحله کې افغان ملت ملي مترقي ګوند د ياد وړ فعاليتونه ترسره کړل .

په امريکه کې هم حداد صاحب په کراره کيننناست او خپلو ملي او فرهنګي فعاليتونو او مبارزې ته يي ادامه ورکړه .پدې دوران کې يې د مختلفو منابعو نه مهم او موثق مواد راټول کړل او د افغان ملي تاريخ په ليکلو يې شروع اوکړه . بالآخره د نژدې ۱۵ کلونو د څيړنې او زيار نه وروسته يې د افغان ملي تاريخ کتاب تکميل کړ. د افغانيت او پښتونولۍ ملي فلسفې ته يې يو نوی رنګ ورکړ. د ملي تاريخ په اړه يې نوي انکشافات رابرڅيره کړل. دغه کتاب د ساپي د پښتو د څيړنيز مرکزپه لګښت په دوه جلده کې په ۲۰۰۰ ميلادي کال کې چاپ شو . ددې کتاب په نهايي کولو کې اروابناد شمس الهدا شمس او ښاغلي محمد افغان اباسين هم همکاري وکړه. د حداد صاحب دغه تاريخي اثر په ټول افغان او پښتون ولس لوی احسان دی .
د افغان ملي تاريخ د کتاب نه وروسته هم حداد صاحب خپلو ارزښتناکو ليکنو او فرهنګي مبارزې ته دوام ورکړ. مقالې او ليکنې به يې وخت په وخت په ورځپاڼو ، جريدو ، خپرونو او ويبپاڼو کې نشريدلې . د افغانستان د شانداره تاريخ او د افغاني مشرانو په وياړ يې د عبرت او نصيحت نه ډکې ليکنې د موجوده او راتلونکو نسلونو لپاره غښه سرمايه ده. د حداد صاحب په اړه که سړی هر څومره وليکي بيا هم کمه ده لکه چې يو شاعر وايي :

ستا د ښايست ګلونه ډير دی          څولۍ مې تنګه زه به کوم يو ټولومه

حداد صاحب د۱۳۹۰ لمريز کال د قوس په ۱۵ مه ددې فاني دنيا نه سترګې پټې کړې خو په معاصر افغان او پښتون مشرانو په قطار کې يې لوړ نوم پريښود.

# سرليکنه

لکه څرنګه چې ټولو هيوادوالو ته معلومه ده نن سبا د هيواد په سياسي جرياناتوکې يوه مهمه موضوع د انتقال پروسه ده . ددې پروسې اساسي هدف دادی چې د هيواد د ټولو امنيتي چارو مسوليت د نړيوالو ځواکونو څخه ملي امنيتي ځواکونو ته په تدريجي توګه وسپارل شي ترڅو تر۲۰۱۴ ميلادي کال پورې دغه بهيرتکميل شي. ددې پروسې د تنظيم او لاربنوونې لپاره د ولسمشرپه فرمان يو کميسيون جوړ شوی چې د مشرۍ دا دروند مسوليت يې د هيواد ملي او سياسي شخصيت ، نړيوال شهرت لرونکي اقتصادپوه او د ماليې پخواني وزير ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمدزي په غاړه اخيستی .

د انتقال اوله او دويمه مرحله پای ته رسيدلې چې په نتيجه کې يې د هيواد تقريباً ۵۰ في صده نفوس تر پوښښ لاندې راغلی. د نړيوالو ځواکونو نه ملي ځواکونو ته د امنيت د مسوليت سپارښتنه آسان کار ندی او له ځان سره ننګونې لري. کومه اساسي پوښتنه چې ددې پروسې په ارتباط پيدا کيږي هغه داده چې آيا زمونږ امنيتي ځواکونو دومره ظرفيت پيدا کړی چې دا مسوليت په برياليتوب پرغاړه واخلي. خو واقعيت دادی چې تر ۲۰۱۴ ميلادي کال پورې د بهرنيانو وتل حتمي دي او د انتقال بهير يو په شا نه تلونکی بهير دی نو د افغان دولت سره بې لدې هيڅ چاره نشته چې د مسوليتونو د انتقال لپاره لازم ظرفيتونه ايجاد کړي . او بله دا چې دا زمونږ هيواد دی او ددې ساتنه زمونږ کار دی نه د بهرنيانو. د همدې حقيقت په درک کولو ښاغلی ډاکټراشرف غني د انتقال د پروسې په يوه جلسه کې داسې ويلي « ولاړې به تيرې کړو خو خپله ملي اردو به وساتو ».

زمونږ امنيتي ځواکونو تر کافي حده حربي توانمندي پيدا کړې خو د تجهيزاتو ، وسايلو او تاسيساتو کمبود په تکراري ډول د انتقال د ننګونې په توګه وړاندې شوي دی . بايد د انتقال د پروسې د فرصتونو نه په پوره استفاده د داسې مشکلاتو د حل لپاره د نړيوالې ټولنې په همکارۍ لازمې لارې چارې ولټول شي. ۲۰۱۴ ډير ليرې ندی او وخت په چټکۍ له مونږ نه تيريږی .

د يادونې وړ ده چې د انتقال د پروسې د سمون زيات بار پخپله د کميسيون ريس په غاړه اخيستی او ولاياتو ته يې سفرونه او ورسره يې رابطې زياتې کړي تر څو د امنيتي وضعې په اړه په واقعيتونو ولاړ او جامع معلومات راجمع او ولسمشر ته يې د لازمو تصاميمو لپاره وړاندې کړي . د انتقال د پروسې برياليتوب يواځې د امنيت پورې ندی تړلی. د امنيت په خوا کې که پرمختګ ، د ملي اقتصاد رشد ، د قانون حاکميت ، د اداری فساد پر ضد مبارزې او ښه حکومتدارۍ ته لازمه توجه ونشي، هغه لاسته راوړنې چې د امنيت په ډګر کې يې لرو له لاسه به يې ورکړو . پدې اړه د مرکزي حکومت وزارتونه ، ولايتي او محلي چارواکي په خپل خپل ځای کې مسوليتونه لري . بل اړخ ته د نړيوالې ټولنې نقش د انتقال د برنامو د تمويل لپاره کليدي دی . د کابل کنفرانس د پريکړو پر اساس چې کومې ملي برنامې جوړې شوي د هغوی د تحقق لپره لاتر اوسه کوم واضح او مشخصه ستراتيژي وجود نلري . که پدې مورد کې وضع همداسې دوام پيدا کړي منفي اغيزې به يې د انتقال پر بهير هم پريوځي.

بايد ياده شي چې پدې پروسه کې د انتقال کميسيون نقش د انسجام او رهبرۍ دی. ددې پروسې برياليتوب د ټولو حکومتي ادارو فعال حمايت او نقش ته اړتيا لري . د ا يوه ملي او سرنوشت جوړونکې پروسه ده او د دولت په خوا کې د ولس کلک او قوي حمايت ته هم ضرورت لري .

## پاتې: جلال آباد او پيښور کې د اروابناد ....................

همدا راز په پيښور کې د ۱۳۹۰ کال د جدي په ۳مه د شنبې په ورځ د لس بجو څخه تر دولسو بجو پورې د ساپي پښتو څيړنو او پراختيا مرکز او د اروابناد شمس الهدا شمس د کورنۍ لخوا د ارباب روډ د ګل حاجي پلازې په جومات کې د اروابناد قدرت الله حداد فاتحه په پرتمينو مراسمو سره واخيستل شوه، چې په کې د پيښور او نورو لرې پرتو سيمو څخه راغليوپښتنو ليکوالانو، شاعرانو، اديبانو، سياستوالو، د افغان ادبي بهير، کوهاټ رښتين ادبي ټولنې، د حميد بابا ادبي ټولنې، قلندر بابا ادبي ټولنې غړو او نورو قومي مشرانو برخه واخيسته.

غونډې ته د ښاغلي زردشت شمس د خپلې کورنۍ، سردار خان سيرت د الحاج امام الدين ساپي په استازيتوب، مولوي اوليا زابلوال، استاد فضل مولا توره کی د افغان ادبي بهير په استازيتوب، حنيف اپريدي د حميد بابا ادبي جرګې په استازيتوب، شاه محمود غزنوي د قلندر ادبي جرګې په استازيتوب، جنرال عبدالصمد مومند د افغان فرهنګي ټولنې په استازيتوب او عبدالواحد مشوانې د قدرت الله حداد د ژوند په بيلا بيلواړخونو رڼا واچوله او ښاغلي ميرزمان جبارخيل د حداد صاحب په ياد يو شعر ولوست. وروسته د مراسمو ګډونوالو د خاطرو په هغه کتاب کې د حداد صاحب په اړه خپل تاثرات خوندي کړل او په يو سيمه ييز هوټل کې ميلمنو په هغه خيرات کې برخه واخيسته چې د حداد صاحب د ايصال ثواب لپاره برابر شوی و .

د يادونې وړ ده چې په همدغه جومات کې د ګډونوالو لخوا د قرآن عظيم الشان ختم هم وکړی شو.

# په افغاني کلتور او ارزښتونو باندې بهرنی يرغل

**ولی حداد فرهاد**

اروابناد حداد ښاحب د شپېتو کلونو راهيسې خپل ټول ژوند افغاني کلتور او تاريخ ته، چه افغاني ناسيوناليزم يې بنسټ و، وقف، هغه يې څېړلی او پرمخ بېولی دی. د هغوی مينه د ګران هيواد په هکله ليکل وه. د دسمبرپه ۱۴مه ۲۰۱۱ يعنې يوه ورځ لدې نه مخکې چه ددې نړۍ نه ولاړ شي خپله وروستۍ ليکنه يې د خپرونې لپاره آماده کړه او ويې ويل: تر هغه وخته چه زما سترګې ديد ولري او د قلم د نيولو توان مې په ګوتو کې پاتې وي د ګران افغانستان په هکله به د ليکنو لړۍ جاري وساتم.

نن موږ ټوله ددې شاهد يو چه زموږ هيواد له هرې خوا د يو وژونکي کلتوري بريد سره مخ دی، هغه کړۍ چه زموږ ژبه، کلتور او ارزښتونه را ورانوي خپل شوم پلانونه ببله کوم مقاومته په مخ بيايي. دا زموږ دنده ده چه د هغو دښمنانو د بريدونو په مقابل کې دفاع وکړو چه د ملګرو په نوم يې زموږ مادي او معنوي ارزښتونه تر شديد يرغل لاندې راوستي دي او هغه د منځه تللو په حالت کې دي. که تاريخ ته ځير شو موږ وليدل چه څرنګه استعمار(د اقوامو ترمنځ تفرقه راولئ او حکومت وکړئ) تر شعار لاندې خپلي استعماري نقشې او مرامونه د نړۍ په بېلو بېلو برخو کښې د عمل په ډګر کې خپرې کړې، خو د تاريخ په مختلفو دورو کښې افغانانو تل د خپلې آزادۍ نه په کلکه دفاع کړې ده. چا چې د افغانستان د نيولو خوب په سر کې درلود د افغانانو لخوا په وار وارله وژونکې ماتې سره مخامخ شوي چه د دوی دغو مستقيمو مداخلو په افغانستان کې او غاښ ماتېدونکو ماتو د استعماري تاج او تخت په مخ چنداني ښه نښه پرې نه ښوده. د هغو وژونکو ماتو په ارتباط اوس هم د همهغو زړو تګلارو لړۍ په يو يا بل شکل سره د هغو کسانو لخوا چه دعوه لري د افغانانو ملګري دي په مخ بېول کيږي. د ۱۹۷۸ م راهيځې په افغاني ارزښتونو باندې د استعمار او د هغوی د ګوډګيانو لخوا يرغل دوام لري .

دا روښانه خبره ده چه د يوه هيواد د کلتوري ارزښتونو زيانمن کول د هغه هيواد د غيرمستقيم نيولو په معنا ده، نو که څوک وغواړي يو ملت له منځه يوسي، تر ټولو ښه لار يې لومړی د هغه ملت کلتوري ارزښتونو او د ژبو له منځه وړل دي. د يوه ملت او يو هيواد د هرې برخې خرابېده به بېرته جوړ شي، خو عنعنوي او کلتوري ارزښتونه بيا لاس ته نشي راتلای.

نن موږ ګورو چه زموږ ګاونډيان د بېلا بېلو وسيلو له لارې د افغانستان د خرابۍ لړۍ جاري ساتلې او ډېرې رسنۍ د پردی کلتور او ژبې لپاره کار کوي. ددې خارجي تمويل سوو رسنيو له لارې موږ هغه کلمې او ليکنې اورو او وايو چه زموږ دري ژبې ويونکې ورسره نا اشنا دي او دا زموږ په دري ژبه کې د ګاونډيو ملکونو مستقيمه مداخله او اثرات دي چه د افغانستان دري ژبه په ايرانۍ فارسي اوښتې ده او دا کېدای شي زموږ بې مثاله افغاني کلتور او د ژبې ارزښتونو ته ډېر زيانمن وګرځي. بل طرف ته زمونږ ملي ، اسلامي او پښتونولۍ اصيل روايات په مسلسل ډول د بهرنيانو لخوا تخريبيږي .

کله چه د افغان ملت ګوند په ۱۹۶۶ کې د اروابناد غلام محمد فرهاد، چه په پاپا مشهور و په مشرۍ جوړ شو ددې ګوند يو د اهدافو نه دا و چه د افغانستان تاريخ او کلتوري ارزښتونه او ملي رهبران لکه ميرويس نيکه، احمدشاه بابا او نور مشران نوي نسل ته بيا ور وپېژني . کله چه اروابناد حداد صاحب د اتيايمې لسيزې په پای کې د افغان ملت ګوند له مشرۍ نه استعفا وکړه، نوهدف يې دا و چه د افغان ملي فلسفه د يوګوند د محدودې نه ووزي او په يو ملي مفکوره او حرکت بدل شي او نن د هغو هلوځلو نتيجې موږ په پښتني حلقوکې په واضح توګه وينو.

اروابناد حداد ښاحب د امريکې جمهور رئيس ښاغلي اوباما ته په ليکلي ښه لاندينې درې وړانديزونه کړي وو:

- په افغانستان کې سمدستي اوربند.
- د طالبانو سره د سولې خبرې شروع کول.
- د ټولو خارجي قواوو وتل او د يو سالم سياسي حل لپاره ګړندۍ او جدي هلې ځلې.

بايد وپوهېږو چه موږ د ملي وحدت له لارې کولای شو يو دوامداره سوله لاس ته راوړو او د وطن د ا بادولو لپاره يوه معقوله او صحيح زمينه چمتو کړو .تاريخ ښودلې هغه عملونه يا کړنې چه د افغانانو د غوښتنو او کلتوري او مذهبي ارزښتونو په خلاف ترسره شوي د يو ډېر غاښ ماتونکې ماتې سره مخامخ شوي دي.

په افغانستان کې د ۱۹۷۸ميلادي کال له پېښو نه تراوسه پورې که د کمونيزم ترنامه لاندې ريفورمونه رامنځ ته شول او يا دبيرون نه راغلې ډېموکراسۍ تر سيوري لاندې نوي فکرونه پيدا شول هغه ټول د جدي مقاومت سره مخامخ شول، نو موږ بايد خپلې افغاني ملي لارې چارې چه زموږ ملي تاريخ ثبت کړي تعقيب کړو .ددې ډېره ښه بېلګه د اروابناد حداد صاحب د افغان ملي فلسفې او پښتونولۍ تر عنوان لاندې يو ارزښتناک اثر دی چه د ۱۹۹۰ په آخري لسيزه کې خپور شوی او دا ملي لارې چارې يې په ډېره ښه او مفصله توګه وړاندې کړې دي .دا اثر به په نژدې راتلونکې کې د هيواوالو لپاره بيا چاپ او خپور شي. ددې مهم اثر بيا خپرول به د نوي نسل لپاره د افغاني کلتور د ارزښتونو سره اشنايي او د هغو د ساتلو لپاره به د يوملي مقصد د شروع ټکی وي. ملي مشرانو ته احترام ، د هيواد ټولوژبو، دين او داقليتونو حقوقو ته درناوی د ملي هويت او د هيواد د بنسټ جوړولو اساس دی.

کله چه زه په پېښور کې په دربيم ټولګۍ کې وم زما يو ډېر نژدې ملګري( اجمل شمس )چه له ما نه درې کاله مخکې وو زموږ د ښوونځۍ په يو ادبي پروګرام کې برخه واخيسته او يوه مقاله يې واوروله چه تراوسه هم زما په غوږو کې شته .هغه وويل چه د قلم زور د تورې د زور نه زيات دی .دا خبره په رښتيا هم يو حقيقت دی او ځوان نسل ته بايد دا پيغام ولېږل شي او تاکيد پرې وشي چه پوهنه او پوهه زموږ د ګران هيواد افغانستان د اوسنيو بدبختيو څخه د خلاصون يوازينۍ لار ده خو ددې په خوا کې بايد خپل هيواد ، هيوادوالو اوملت ته صادق هم اوسو.

**(ليکوال د اروابناد قدرت الله حداد زوی او د افغان ملت ګوند د موسس ديپلوم انجينير غلام محمد فرهاد وراره دی)**

# د حداد صاحب په ياد

**اسد الله غظنفر**

د سراج الاخبار د زمانې او د ثور د کودتا تر منځ په افغانستان کې د داسې کسانو يو قشر راپيدا شو چې د افغانستان په خلکو، په تاريخ او په کلتور کې يې عظمت ليد خو د تجدد ارزومن هم وو. مهذب اوسيدل مګر په بيوزلۍ نه شرميدل او غلا ورته ډيره بده ښکاريده. د دې قشر دوه ډير څرګند استازي غلام محمد فرهاد او د ده کشر ورور قدرت الله حداد وو.

پلار مې وايي چې په ديارلس سوه څوديرشمو کلونو کې يې د هغه وخت کابل ښاروال غلام محمد فرهاد (پاپا) يادېږي چې له اشرباڼو زلمو سره يې اوږه په اوږه د ميوند واټ په جوړولو کې برخه اخيسته او چې غرمه به شوه، په يوه لاس کې به يې ګندنه وه ،په بل لاس کې وچه ډوډۍ، مړۍ به يې په ولاړو، ژر ژر تر ستونې تيروله چې کار ته ژر وزګاره شي.

ما پاپا نه و ليدلی خو د ده ورور قدرت الله حداد مې په پيښور کې د نولس سوه اتيا لسيزې په لومړۍ نيمه کې ډير ځله وليد. په افغانستان کې د ببرک کارمل حکومت و. په پيښور کې جهادي تنظيمونه په قدرت کې وو. د حداد صاحب خپل ګوند ،افغان ملت، دوه يا شايد څو ټوټې شوی و. حداد صاحب په سياسي او اجتماعی ژوند کې يوازيتوب احساساوه او په اقتصادي ژوند کې يې ممکن هغومره بيوسي بل هيڅ وخت نه وه ليدلې. حداد صاحب خپل فکري نظام د افغانستان په چوکاټ کې جوړ کړی و، خو اوس افغانستان له ده پاتې او نيول شوی ملک و. ده چې د ملي کلتور، ملي وحدت او ملي تاريخ په باره کې کومې نظريې لرلې، هغه په پاکستان کې او هغه هم د ضيا الحق په پاکستان کې د جرم او ګناه نظريې وې.

حداد صاحب په نشنليزم مبين و او نشنليزم په هغه وخت کې تر سوسياليزم بدتره بلا بلل کيدله. د غلام الله په نوم يوه تنظيمي ملا په دې باندې اوږد تحقيق وکړ چې د نشنليزم اصلي سرچينه ومومي. ملا صاحب ډير ژور لاړ او بالاخره دې نتيجې ته ورسيد چې نشنليزم د فرعون مفکوره وه. امان الله خان چې د حداد صاحب يو آيډيال شخصيت و، د پيښور په تنظيم شاهي کې د خدای لوی ګناهګار و.

امان الله خان ډير وغندل شو، خو د غندلو په مخ کې يې صرف يو خنډ و او هغه دا چې علامه اقبال د امان الله خان او نادرخان ستاينې کړې وې او علامه اقبال چې د پاکستان خوب يې ليدلی و،

تر تنقيد پورته مقام درلود. په دې منځ کې يو تنظيمي ليکوال راپاڅيد او د دې خبرې د ثابتولو کوښښ يې وکړ چې د علامه اقبال مقصد خو د امان الله خان او نادر خان ستاينې نه وې بلکې اصلی مقصد يې دا و چې دوی ته نصيحت وکړي.

قاعده ده چې د وطن په ننګ راپاڅيدلي خلک د وطن بيرغ ته ډير درناوی کوي، مګر د هغه وخت په پيښور کې رنګارنګ بيرغونه راووتل. حداد صاحب به په دې خپه وو چې هغه درې رنګه بيرغ د هېريدو په حال کې دی. ده به ويل، بيرغ مقدس شی دی، مونږ به بيرغ علم شريف باله

د هغه وخت په پيښور کې له تنظيمونو سره مخالفت د دين او دنيا تاوان و. حداد صاحب دا تاوان منلی و. يوه ورځ يې راته ويل چې شورويان که د حنفي فقه په اساس په ملګرو ملتونو کې د شفعې دعوه راباندې وکړي، وطن رانه ګټي، ځکه که عرض وکړي چې تاسې وطن هسې هم خرڅوئ نو چې زه ګاونډی يم اول حق زما کيږي، نه د دنيا په بل سرکې د بل چا، مونږ يې ځواب نه لرو.

حداد صاحب ظريف سړی و. ما تر ده دنګ او تر ده ظريف کس په ژوند کې کم ليدلی دی. ګومان کوم که د ظرافت هنر ورسره نه وای، سکته به يې په اتيا کلنۍ کې په ورجنيا کې نه بلکې په څو پنځوس کلنۍ کې په پيښور کې کړې وه.

د اپريل د مياشتې يوه جمعه مې يادېږي ، چې د پيښور په کبابيان کې د هغه کور ته ورغلم. راته ويې ويل: په دې اونۍ کې مې دوه مهم کارونه کړي دي. يو مې جنتري بيرته شمسي کړه او بل مې ساعت، نيم ساعت وروسته کړ چې له افغانستان سره برابر شي.

دی په خپل ورک کړي افغانستان پسې ګرځيد. دی چې اوس له خپل وطنه په زرګونو کيلومتره لرې د امريکا په خاوره کې د ابد په خوب ويده دی، يو ابدي غم خو به يې نه ځوروي؟

# د افغان ملت ملي مترقي گوند رهبر قدرت الله حداد په مړينه دغمرازۍ پيغامونه او د عقيدت پيرزوونې

## دميدان وردگو والي ښاغلي محمد حليم فدايي دخواشينۍ پيغام

په ډيرې خواشينۍ سره مو خبر ترلاسه کړو چې دپښتو ژبې تکړه ليکوال، مفکر،فلسفه ليکونکی او تکړه تاريخ پوه قدرت الله حداد دورپيښې ناروغۍ له امله د٨٠ کلو په عمر له هېواد بهر دامريکا دويرجينا په ايالت کې بيگاه ناوخت ومړ .اناالله ونا اليه راجعون

اروابساد قدرت الله حداد دزياتې مودې راپديخواناروغه و اوسره له ناروغۍ يې هره ورځ دافغانستان په ملي تاريخ اوملي فلسفې په اړه ليکنې کولې چې ددې فاني دنيانه دتل لپاره ولاړ .

دميدان وردگو والي داروابساد مړينه د افغانستان ټولو ولسونو، او په ځانگړې ډول دميدان وردگو ولايت ولسونو او فرهنگپالو مفکرينو لپاره يوه ستره ضايع بولي، اروابنآد ته دخداي (ج) له دربار څخه دفروس جنت او دافغان ملت گوند او داربناد کورنۍ ته يې دجميل صبر غوښتنه کوي.

قدرت الله حداد د افغان ملت گوند د موسس غلام محمد فرهاد ورور و ، چې له اره د ميدان وردگو ولايت اوسېدونکی و، د ١٩٣٠ کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه په کابل کې زېږېدلی،قدرت الله حداد په ١٣٣٠ ل هـ کال د انيس په جريدې کې کار کړی، بيا د ښاروالۍ په رياست کې د پامير جريدې خپرول ورته وسپارل شول، وروسته د اقتصاد د جريدې مرستيال شو.
ښاغلی حداد ((فرهاد)) څلور کاله د ژورناليزم کورس ولوست، رسمي سند يې ترلاسه کړ او د رحمان بابا لومړنۍ جايزه ور په برخه شوه، بيا د سرې مياشتې د تبليغاتو مدير شو، لس کاله يې ماموريت کړی او د پښتو ملي ژبې ښوونيز کورسونه يې هم چلولي دي.
ښاغلي حداد دوه يمه درجه مطبوعاتي جايزه هم اخيستې او د ټولنيزو، کلتوري او تاريخي څېړنو تل ته ورکوز شوی دی .
په ١٣٥٧ ل هـ کال کې د ثور د خونړۍ کودتا پر مهال اتلس مياشتې بندي شو؛ خو په تقدير کې يې هلته مرگ نه و ليکل شوي، ژوندی ترې راووت. په ١٣٦٠ ل هـ کال کې پېښور ته مهاجر شو، په کلېفورنيا کې دمهاجرت په وخت کې د(افغان ملي تاريخ ) په دوه ټوکو کې دپښتنو او د پښتنو خواخوږو لپاره وليکل . روح يې ښاد او ياد يې تل

## ساپي دپښتوڅېړنو او پراختيا مرکز دخواشينۍ پيغام

دافغان ملت سترلاربنود اودافغان ملي تاريخ اوملي فلسفې راژوندی کونکي تاريخپوه قدرت الله حداد دافغانستان په وخت بيگاماښام دامريکا په ورجينياښارکي ومړاروابنادقدرت الله حداد دزياتې مودې راپديخواناروغه و اوسره له ناروغۍ يې هره ورځ دافغانستان په ملي تاريخ اوملي فلسفه دساپې وبيپاڼې ته ليکنه کوله ددې فاني دنيانه دتل لپاره ولاړقدرت الله حداد د افغان ملت گوند د موسس غلام محمد فرهاد، چې په پاپا مشهور و، ورور و قدرت الله حداد، چې له اره د ميدان اوسېدونکی و، د ١٩٣٠ کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه په کابل کې زېږېدلی. قدرت الله حداد په ١٣٣٠ ل هـ کال د انيس په جريدې کې کار کړی، بيا د ښاروالۍ په رياست کې د پامير جريدې خپرول ورته سپارل شوي، وروسته د اقتصاد د جريدې مرستيال شوی دی. ښاغلی حداد ((فرهاد)) څلور کاله د ژورناليزم کورس ولوست، رسمي سند يې ترلاسه کړ او د رحمان بابا لومړنۍ جايزه ور په برخه شوه، بيا د سرې مياشتې د تبليغاتو مدير شو، لس کاله يې ماموريت کړی او د پښتو ملي ژبې ښوونيز کورسونه يې هم چلولي دي.
په ١٣٤٥ ل هـ کال کې د ((افغان ملت)) د جريدې مسوول چلوونکی وټاکل شواو د ملي پيدايښت پر ارزښتونو يې د مشرانو اندونه راټول کړل. د ده د کار په بهير کې ((افغان ملت)) جريده دوه ځلي مصادره شوې او دی محکمې ته غوښتل شوی دی.ښاغلي حداد دوه يمه درجه مطبوعاتي جايزه هم اخيستې او د ټولنيزو، کلتوري او تاريخي څېړنو تل ته ورکوز شوی دی. هغه وخت چې د افغان سرې مياشتې د تبليغاتو مسوول و د ايران زلزله ځپلو ته يې پنځه ويشت زره ډالره نغدي مرسته رسولې او هلته يې له ايراني تکړه ليکوال علي دشتي او شاعر رهي معيري سره کتلي او د پښتو ژبې په باره کې يې ورسره بحثونه کړي دي.
په ١٣٥٠ ل هـ کال کې د بنگله دېش نړيوال سيمينار ته لاړاو د سولې د ټينگولو په بحث کې يې برخه واخيسته. دغه راز يې په کلکته کې د مهاجرو کمپونه ليدلي دي. په ١٣٥٧ ل هـ کال کې د ثور د خونړۍ کودتا پر مهال اتلس مياشتې بندي شو؛ خو په تقدير کې يې هلته مرگ نه و ليکل شوي، ژوندی ترې راووت. په ١٣٦٠ ل هـ کال کې پېښور ته مهاجر شو .کله چې له پېښوره کلېفورنيا ته مهاجر شود افغانان وپرپېښو، اندېښنواو تاريخي شتون يې ((د افغان ملي تاريخ)) دوه ټوکه د پښتو او پښتنوخوا خوږو ته وليکل او ((د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز)) پر لگښت چاپ او خپاره شول چې د لوستونکيو له تاوده هرکلي سره مخامخ شوي دي.
خدای بخښلي حداد دناروغتياپر وخت خپلې کورنې ته ويلي وو که امکان يې درلود خپلې خاورې ته مې ورسوئ اوکه تاسې ته زياته مشکله وه نوپه ويرجينياکې مې خاوروته وسپارئ دا اوس نده خرگنده چې کورنې به يې څه ډول تصميم نيسي دساپي دپښتوڅېړنواو پراختيا مرکزښتوال امام الدين ساپي ،دهغه کورنۍ او ددفترټول کارکوونکي يې په مړينه داروابناد دکورنۍ سره داغم شريک بولي - ارواپي ښاده

## د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند دخواشينۍ پيغام

په ډيره خواشينۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چې د افغان ملت گوند پخوانی مشر ښاغلی قدرت الله حدادا لدې فاني نړۍ څخه د تل لپاره سترگې پټې کړی .
تاريخپوه ،ليکوال،سياستوال او ژورنالست اروابناد قدرت الله حدادفرهادپه يوه درنه اوسياسي کورنۍ کې پيداشوی اودافغان سوشل ډيموکراټيک پارټۍ( افغان ملت گوند)د بنسټ ايښودونکی اروابنادغلام محمد فرهاد وروړ .
اروابناد قدرت الله حدادپخپله هم د سياست د ډگر وتلی لوبغاړی ؤاود افغان ملت گوندمشرپاتی شوی دی.
اروابنادحدادد پښتو پښتونولئ سره بی کچه مينه لرله چی له همدی امله ئی د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند (پښتون سوشل ډيموکراټيک پارټي) د مشرانو سره ډيری نژدی اړيکی لرلی
اروابناد حدادصيب د پښتو ژبی او پښتني کولتور د بډايني لپاره د مرگ تر اخری سلگئ پوری بډی رانغتی وی دخپل قلم توره ئی تل تيره ساتلی وه. گڼ شمير ارزښتناکی ليکنی ئی په بيلا بيلو مجلو، ورځپاڼو او ويبپاڼو ی خپري شوی دی.
له ده څخه مونږ ته گڼ ارزښتناک پوهنيز کتابونه راپاتی دی، چی د ده ياد به تل تازه ساتی او پښتون قام به دده خدمتونو ته تل په درنه سترگه گوری. د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند (Pashtoons Social Democratic Party (PSDP داروابناد قدرت الله حدادمړينه ټول پښتون قام ته لويه ضايعه بولی ،
داروابناد کورنئ، خپلوانو ،دوستانو او سياسيي ملگرو سره په دغهدروندغم کې ځان شريک گڼي. جنت فردوس دی په نصيب شی

په درناوی
نصير ستوری
د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوندجنرل سيکرټری

## د افغان ملت دلارښود اروابناد قدرت الله حداد په ياد

میرزمان جبارخیل

يو گوندي ورور راته وويل حداد لاړ
داغيار دسترگو خار هغه بنياد لاړ

دغم اوښکې مې په سترگو کې شوې وچې
له فاني دنيا نه هغه اروابناد لاړ

دسرېښ او دغرغښت کور کې ماتم دی
دافغان ملت وارث ، زمونږ مراد لاړ

سل دې ومره ، يو دې مه مره دا متل دی
په حساب رانه ديو ، لکه تعداد لاړ

دنهضت زانگو کې څوک اوس للو شوې ؟
دتير برم ساتندوی ام البلاد لاړ

دعلومو مور تاريخ ته ويل کيږي
دهېواد ستره هستي هغه سواد لاړ

په ملي غرور يې زه درته سوگند خورم
ځومره پاک له هر تنقيد او انتقاد لاړ

گرمه ساتو معرکه دټولنپال گوند
که( حدا) لاړه ، که(شمس )که ستر(فرهاد) لاړ

په سنجش دتفکر مې دومره وايم
معنوي لويه هستي هغه امداد لاړ

خدای بخښلی حداد کړې دا وينا وه
منحرف له اصلي خط نه متضاد لاړ

په رښتيا په سپينه ږيره مصمم ؤ
تر اخره دنامردو په تضاد لاړ

ستر لارښود يو ، په ملي روحيه روزلي
درته چا ويلي دادی ، چې يې ياد لاړ ؟

دحداد روح به هغلته ارام مومي
له هېواد نه يې كه ظلم استبداد لاړ

دافغان ملي تاريخ فلسفه څه ده ؟
هر غليم يې له ټاټوبي مرده باد لاړ

جبار خيله کا شکی دازيری زر وکړې
چې افغان ولس په لار داتحاد لاړ

## له ټولو خواخوږو مننه

ولي حداد فرهاد

قدرمنو هېوادوالو ! دمحترم اروابناد حداد صاحب د وفات نه شپږ اوونۍ وروسته په دې توانيږم ، چې د ځان او خپلې ټولې کورنۍ دزړه له کومې مننې ټولو هغه هېوادوالو او عزيزانو ته ، چې زمونږ د مرحوم پلار په فاتحو او ختمونو کې يې برخه اخيستې، يا يې د ټيليفون او برېښنا ليک له لارېو زمونږ سره خواخوږي ښکاره کړې او هم هغه ملگرو، چې په ويب پاڼو کې ليکنې، شعرونه او خپل پاک احساسات څرگند کړي، وړاندې کوم .
د دې حديث شريف په استناد، چې کله يوه خبره د چا له خولې نه وځي هغه د بل انسان تر غوږو رسيږي او کله چې يوه خبره د يو انسان له زړه نه وځي هغه د بل انسان زړه ته رسيږي. مونږ هم ستاسو ټولو خواخوږو ملگرو خبرې واورېدې او زړه ته مو راورسيدې. پدغه ډېرو سختو ورځو او حالاتو کې ستاسو دغه د خواخوږۍ پيغامونه او سپيڅلي احساسات زمونږ د زړه د ډاډ او ډېرو تسليو باعث وگرځيده ، نو يو ځل بيا تاسو ټولو نه ډېره مننه او کور ودانی وړاندې کوم .
ديوه ارام او متحد گران افغانستان په هيله !

په ډيره مينه
ولي حداد فرهاد د اروابناد حداد زوی




يو يادگاري تصوير: د ښي اړخ نه اروابناد شمس الهدی شمس ، اوابناد محمد عثمان زيارمل او اروابناد قدرت الله حداد فرهاد او نور ملگرى (پيښور ١٩٨٧)

